# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۱۴ عقرب _سال ۱۴۰۱




خبرنامه



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د پنجشېر ولایت د مهاجرینو چاروآمریت کار کوونکو ته ظرفیت لوړونې په موخه روزنیز پروګرام ترسره شو ---------- ۱
کمیته ادغام مجدد و استقرار پایدار عودت کنندگان و بیجاشدگان بادغیس فعال شد--------------------------------- ۲
دایکندي کې د یو ښوونځي د رغولو چارو پیل شوې----------------------------------------------------------------- ۲
برای بیش از صد خانواده در هلمند مدد رسانی شد ------------------------------------------------------------ ۳
لغمان کې( ۲۴۸) کورنیوسره مرستې وشوې ----------------------------------------------------------------------- ٤
بیش از ۳ هزارمهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود ------------------------------------------------------------- ۵
قندهار کې د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو ولایتي کمېټه او معلوماتي سیستم بیا ځلې فعاله شو ---------------------- ۵
واژگونی قایق مهاجران در اژه؛ ۲۰ جسد یافت شد---------------------------------------------------------------- ٦
برېتانیا : الکترونیکي لاس بندونو کېوال له رواني ستونزو سره مخ کړي دي-------------------------------------------- ۷

# متن کامل اخبار

## د پنجشېر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت کار کوونکو ته ظرفیت لوړوني په موخه روزنیز پروگرام ترسره شو

دوزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلاوي له خواد (UNHCR) دفتر په مرسته د پنجشېر ولایت د مهاجرینو چاروآمریت کار کوونکوته د لړم په (۹) مه د ظرفیت لوړوني روزنیز پروگرام ترسره شو.**

**د دغه رزنیز پروگرام په جریان کې د راپور لیکنې، مکتوب، د کړنو ارزونې ، بودیجې د مالي او حسابي فورمونه په تکلارې او یوشمېر اړوندو موضوعاتو په اړه د مهاجرینو چارو وزارت د پلاوي له لورې خبرې وشوې او د ګډنوالو سوالونه ته ځوابونه وویل شول.**

## کمیته ادغام مجدد و استقرار پایدار عودت کنندگان و بیجاشدگان بادغیس فعال شد

ویب سایت وزارت



**هیأت اعزامی وزارت امور مهاجرین، کمیته ادغام مجدد و استقرار پایدار عودت کنندگان و بیجاشدگان ولایت بادغیس با همکاری دفتر UNHCR به تاریخ ۱۱ عقرب فعال نمود.**

**درجلسه افتتاحیه کمیته یادشده که با حضور روئسای ادارات سکتوری ، مسئولین موسسات ملی و بین المللی در آنولایت دایر شده بود، والی بادغیس صحبت نموده ، ضمن قدر دانی از اقدام وزارت امور مهاجرین، بر هماهنگی وهمکاری ادارات زیربط با ریاست امور مهاجرین آنولایت تاکیدنمود.**

**سپس هیأت اعزامی وزارت امور مهاجرین، مسوولیت ها ووظایف کمیته ادغام را به حاضرین توضیح نمود.**

## دایکندي کې د یو ښوونځي د رغولو چارو پیل شوي

دوزارت ویب سایت



**د دایکندي ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د (UNHCR) دفتر په همکارۍ د لړم په (۱۱) مه د یوښوونځي د جوړېدو خبر ورکړ.**

**یاده پروژه د مرستیال والي، د (UNHCR) دفتر د مرکزي زون د رئیس، دولتي ادارو، د سیمې د مشرانو او د ښارګوټو د استازو په شتون کې پرانیستل شوه.**

**یاد ښوونځی په دوه منزلو کې دولس درسي خوني، احاطوي دېوال، شنه سیمه، تشنابونه، د اوبو ذخیره، د لمریزې برېښنا د برق سیستم، د ښوونکو او زده کوونکو لپاره چوکۍ او میزونه لري، چې ټول لګښت یې (۳) سوه او (۱۳) زره امریکایي ډالره کېږي، چې د (UNHCR) دفتر له لورې په ( ۱۳) میاشتو کې په (۳۲۰۰) متره مربع ځمکه کې جوړېږي.**

**د ویلو ده، چې د دایکندي ولایت د پوهنې ریاست د تشکیل له مخې د دایکندي ولایت د مهاجرینو لومړنی ښوونځیی فعال و، مګر ماشومانو په نا مناسبو او کرایي خونو کې زده کړې کولې.**

## برای بیش از صد خانواده در هلمند مدد رسانی شد

ویب سایت وزارت



**ریاست امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت هلمند مساعدت  غذایی را برای ۱۷۹ خانواده به  تاریخ ۱۱ عقرب توزیع نمود.**

**مساعدت مذکور،  شامل ۱۷۸ کیلو آرد ،۴۲ کیلو برنج ، ۱٤ کیلو روغن، ۱۸ کیلو لوبیا ودال و ۲ کیلو نمک  از جانب موسسه AAH بود که ازطریق اداره امور مهاجرین آنولایت توزیع شد.**

## لغمان کې( ۲۴۸) کورنیوسره مرستې وشوې

دوزارت ویب سایت




**د (UNHCR) دفتر له لورې د لغمان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست په همکارۍ ( ۲۴۸) اړمنو کورنیوسره د لړم په ( ۱۱) مه نغدي مرستې وشوې.یادو کورنیو هرې کورنۍ ته (۳۰) امریکایي ډالره نغدې، دوه دوه د لمریزې برېښنا تختې او د اړتیا وړ وسایل ووېشل شول.**

## بیش از ۳ هزارمهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۳ هزارو ۶۳۲ نفر مهاجر مقیم ایران، به تاریخ۱۰ و۱۱ عقرب از مسیر اسلام قلعه وپل ابریشم به کشور برگشته اند.**

**آمرسرحدی اسلام قلعه گفت که یک هزارو ۷۷۵ تن مهاجربه تاریخ ۱۱ عقرب وارد ولایت هرات شده است که ۷۲ خانواده، شامل ۲۵۵ تن و ۱۵۲۰ تن افراد مجرد بودند .**

**منبع علاوه نمود که ازآن میان، ۲۳۷تن غرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی شده اند.**

**همچنان یک هزارو ۸۴۷ تن مهاجر افغان مقیم ایران، از طریق پل ابریشم، به تاریخ ۱۰ عقرب به ولایت نیمروز برگشت نموده اند.**

**به گفته رییس امورمهاجرین ولایت نیمروز، افراد مذکور ۵۶ خانواده ، شامل ۱۹۷ تن و ۱۶۵۰ تن مجرد بودند و ازآن میان ۳۱۰ نفرغرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی شده اند.**

## قندهار کي د راستنېدونکو د بیا یوځای کېدو ولایتي کمېټه او معلوماتي سیستم بیا ځلي فعاله شو

دوزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت د پلاوي له لورې د لړم په ( ۱۰) مه د قندهار ولایت د راستنېدونکو او بېځایه شوو د بیا یوځای کېدو کمېټه او معلوماتي سیستم بیاځلي فعاله شو.**

**په مراسمو کي چې په همدې موخه د دغه ولایت د یوشمېر دولتي ادارو او همکارو مرستندویه بنسټونو د استازو په شتون کي ترسره شول ، د قندهار مرستیال والي مولوي حیات الله د مهاجرینو چارو وزارت د کړنو څخه مننه وکړه او په دغه ولایت کي یې د مهاجرینو او راستنېدونکو د ستونزو په اړه یې د دولتي ادارو او همکارو مرستندویه بنسټونو څخه غوښتنه وکړه، چې د راستنېدونکو او بېځایه شوو د ستونزو د حل او هغوی ته د غور خدماتو وړاندې کولو په برخه کي دې د بیا یوځای کېدو کمېټې او معلوماتي سیستم له لارې د برابرو شوو اسانتیاوو په کارولو سره په همغږۍ عمل وکړي.**

**وروسته د قندهار ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو رئیس د یادې کمېټې او د دولتي او همکارو بنسټونو په اړه چې د کمېټې غړیتوب لري معلومات ورکړل.**

**د وزارت پلاوي د بیا یوځای کېدو کمېټې د موخو، دندو، د کمېټې د کاري تګلارې او د انلاین معلوماتي سیستم په اړه ګډنوالو ته معلومات ورکړل.**

**د راستنېدونکو د بیایوځای کېدو ولایتي کمېټه او او معلوماتي سیستم د مهاجرینو چارو وزارت او د (UNHCR) دفتر د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې د یاد دفتر په مرسته ترسره کېږي**

## واژگونی قایق مهاجران در اژه؛ ۲۰ جسد یافت شد

دویچه وله




**امدادگران توانستند بعد از رویداد واژگونی قایق پناهجویان در نزدیکی جزیره ائوبویای یونان، اجساد ۲۰ تن از قربانیان را از آب بیرون بکشند. سرنشینان این قایق از افغانستان، مصر و ایران بوده اند .**

**بعد از رویداد واژگونی قایق پناهجویان در مدیترانه که در جنوب جزیره ائوبویا یا اِویا رخ داد، امدادگران توانستند به روز چهارشنبه اجساد ۲۰ مهاجر را از آبها بیرون بکشند. چنانچه روزنامه یونانی «کاتریمینی» گزارش داده است ۱۲ تن نیز توانستند به روز سه شنبه زمانی که این قایق واژگون شده بود، نجات یابند. دست کم ۳۶ تن دیگر تا کنون ناپدید اند.**

**بیشتر بخوانید :واژگونی دو قایق مهاجران در اژه؛ بیش از ۶۰ نفر ناپدید اند**

**به گزارش این روزنامه، این قایق احتمالا به دلیل وزش بادهای شدید با ۶۸ سرنشین واژگون شده و حامل شمار زیادی از زنان و کودکان بوده است.**

**بر اساس معلومات نجات یافته گان، این قایق از ازمیر ترکیه حرکت کرده بود. هیچکدام از سرنشینان این قایق واژگون شده با واسکت‌های نجات مجهز نبوده اند. این مهاجران از افغانستان، مصر و ایران بوده اند.**

**همچنان به روز سه شنبه در واژگونی یک قایق مهاجران در نزدیکی جزیره ساموس یونان نیز ۷ تن ناپدید شده اند. چهار تن ساعتی بعد از این رویداد نجات یافتند. یک نفر نیز جان باخته است. روز چهار شنبه نیز جستجو برای یافتن ناپدید شده گان این رویداد ادامه یافت.**

**مرتبط :بار دیگر ده‌ها مهاجر از خطر غرق شدن در مدیترانه نجات داده شدند**

**بر بنیاد گزارش روزنامه «کاتریمینی» یونان از آغاز سال‌روان میلادی شمار پناهجویان جان باخته و ناپدید شده در شرق مدیترانه به بیش از ۳۰۰ تن رسیده است و در مقایسه با مدت زمان مشابه سال گذشته دو برابر شده است.**

**در سال ۲۰۲۱ بر اساس آمار آژانس پناهندگان سازمان ملل متحد، در مجموع ۱۱۵ تن جان خود را از دست داده و یا هم ناپدید شده اند. بنا بر گمانه زنی‌ها، رقم موارد گزارش ناشده احتمالا بیشتر از این باشد.**

**مرتبط :سازمان امدادی بیش از ۴۰۰ مهاجر را در بحیره مدیترانه نجات داد**

**در رویدادهای واژگونی قایق‌ها اغلبا شمار سرنشینان آنها نامشخص می‌ماند، اما قایق‌ها معمولا بی نهایت پر و مزدحم می‌باشند.**

## برېتانیا : الکترونیکي لاس بندونو کډوال له رواني ستونزو سره مخ کړي دي

کډوال نیوز




په یوه راپور کې چې د اکتوبر په ۳۱مه خپور شوی دی، درې سازمانونه وايي چې الکترونکي لاس بندونو پناه غوښتونکي له رواني ستونزو او فشارونو سره مخ کړي دي. د برېتانیا حکومت تېره جون میاشت ځینې کډوال د جي پي اس لرونکو لاس بندونو اغوستلو ته اړ کړل. دغه کډوال ویلي دي چې لاس بندونه د دوی د «منزي کېدو» سبب شوي دي.

برېتانیا کې درې سازمانونو - بید (BID)، مدیکل جستېس (Medical Justice) او د عامه حقوقو پروجکت (Public Law Project) - د اکتوبر په ۳۱مه پر کډوالو د الکترونيکي لاس بندونو د اغېزو په هکله یو راپور خپور کړ. دغه راپور د کډوالو د سترګو لیدلي حالونو او کلینکي ازمايښتونو پر بنسټ چمتو شوی دی. په راپور کې د کډوالو له قوله راغلي دي چې الکترونيکي لاس بندونه «د شکنجې، انساني کرامت ته د سپکاوي، تجرید او انزوا» بېلګه ده.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت تېره جون میاشت ځینې پناه غوښتونکي د جي پي اس لرونکو لاس بندونو اغوستلو ته اړ کړل ترڅو یې موقعیت معلوم وي. هغه وخت یاد وزارت ویلي وو چې دغه لاس بندونه چې په جي پي اس مجهز دي کولی شي چې «له مهاجرو سره د چارواکو اړیکي نېږدې او ټینګې وساتي .«زیاته شوې وه چې دوی ځکه دا اقدام کړی چې «د پناه غوښتونکو دوسیو د موثرې ارونزنې په هکله معلومات ولري». بل هدف یې د کډوالو پر تګ راتګ کنترول بلل شوی و.

بیا ولولئ :لندن غواړي چې کډوال الکترونیکی لاس بندونه واغوندي

»داسې فکر کوم چې انسان نه یم«

په راپور کي راغلي دي چې ځيني کډوال د دغو لاس بندونو له امله ځان منزوي احساسوي او نور نه غواړي چې په عامه فعاليتونو کې ګډون وکړي.

مديکل جستېس سازمان د يو تن کډوال له خولي ويلي: «له ملګرو سره د چکر وهلو لپاره له کوره نه شم راوتلی ځکه چې لاس بند تل له ما سره دی. هره شيبه د دې امکان شته چې لاس بند مې وليدل شي«...

ځينو نورو بيا خپل سپورټي فعاليتونه درولي دي. يو بل کډوال وايي: «تل اوږد پتلون اغوندم... لامبو مې خوښه ده، خو د [لاس بند له کبله] د لامبو حوض يا سمندر ته نه ځم«.

بيا ولولئ :<u>بريتانيا غواړي چې مجرم او متکلف کډوال ځيرک ساعتونه په لاس کړي</u>

سازمانونو په دغه راپور کي د لاس بندونو د تخنيکي مشکلاتو په هکله هم توضيحات ورکړي دي. د بېلګې په توګه، کډوال اړ دي چې خپل لاس بندونه په منظمه توګه چارج کړي ځکه هغه چارجرونه چې د دولت له خوا کډوالو ته ورکړل شوي دي کار نه ورکوي.

بله ستونزه دا چې لاس بندونه د چارج په خلاصېدو سره الارم ورکوي. يو کډوال وايي چې «کله مې چې لاس بند الارم ورکوي، داسي فکر کوم چې انسان نه يم. يو موټر يم چې تېل يې خلاص کړي«...

لاس بندونه او د کډوالو پر ورځني ژوند يې اغېز

د راپور له مخې، لاس بندونو د کډوالو پر ورځني ژوند او فعاليتونو لکه سپورټ، خوب کول، کار کول، اړيکه ټينګول او يا د ماشومانو پر ساتلو هم منفي اغېز کړی.

ځينې پلرونه او يا مېندې وايي چې د لاس بندونو له امله يې له ماشومانو سره اړيکې خرابې شوې دي او دوی نه شي کولی چې خپلو ماشومانو ته ووايي چې ولې يې اغوستي دي.

د ببېد سازمان مشره اني ويسواناتان وايي چې جي پي اس لرونکي لاس بندونه په کورونو، کورنيو او ټولنه کې د «سرحدونو «د جوړېدو سبب شوي دي.

همدارنګه لاس بندونه د کاري فرصتونو له لاسه ورکولو او ټولنه کې د نه ادغامېدو سبب ګرځېدلي دي. يو بل کډوال وايي: « څو اونۍ مخکې مې هڅه وکړه چې په يوه سازمان کې د رضاکار په توګه کار وکړم. د سازمان مسول مې لاس بند وليد او ويې ويل: دا څه شی دی؟«

پخوانۍ تروماګانې

**سازمانونه وايي چې د برېتانيا د کورنيو چارو وزارت داسې کسانو ته هم لاس بندونه ورکړي دي چې له روحي ستونزو سره مخ دي. خو دغه لاس بندونه کولی شي چې پخواني غمونه تازه کړي.**

**ځينې کډوالو ويلي دي چې د شپې مهال د لاس بندونو د لرزېدو له امله ويده شوي دي. د سازمانونو په وينا، دغه وضعيت د »وېرې او اضطراب« سبب ګرځېدلی شي.**

**راپور کې زياته شوې ده کډوال د لاس بندونو له امله په ډله ايزو فعاليتونو کې هم ګډون نه کوي چې د روحي ناروغيو د درملنې لپاره ښه بلل کېږي.**

**همداراز يو شمېر کډوال د لاس بندونو له کبله له فزيکي مشکلاتو سره هم مخ شوي دي. سازمانونه وايي چې د ځينو کډوالو پر لاسونو ټپونه ليدل شوي دي.**

**»نه غواړم چې خپل کور کې دننه د يو زنداني په شان ژوند وکړم«**

**د برېتانيا حکومت د يوه ازمايښتي پروژې په چوکاټ کې هغه کډوال چې د اخراج له ګواښ سره مخ دي او يا د انګليس کانال له لارې برېتانيا ته اوښتي دي، د الکترونيکي لاس بندونو اغوستلو ته اړ کړي دي.**

**چارواکي کولی شي چې د دغو لاس بندونو په وسيله د کډوالو پر تګ راتګ کنترول ولري او د تښتېدو مخه يې ونيسي. دا په داسې حال کې ده چې د کورنيو چارو وزارت د شمېرو له مخې د ۲۰۲۲ په لومړيو شپږو مياشتو کې له توقيف ځخه د خوشي شويو کډوالو له ډلې يوازې ۱،۳ سلنه يې تښتبدلي دي. پرايوسي انټرنشنل سازمان تېر اوړي د حکومت دغه اقدام غيرمتناسب بللی و ځکه چې «په ۲۰۲۰ کې له توقيف ځايونو ځخه د خوشي شويو کسانو له ډلې يوازې ۱ سلنه يې د تېښتې هڅه کړې وه«.**

**د عامه حقونو پروجکت سازمان څېړونکی جو اېنز وايي چې دوی له کورنيو چارو وزارت ځخه غواړي چې د لاس بندونو پروژه پای ته ورسوي.**